



1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o



# Orientation to Ontario

## عامه ښوونځي

په لومړني ښوونځي کې وړکتون او له 1 څخه تر 8 پورې ټولګي شامل دي. ماشومان معمولاً په څلور یا پنځه کلنۍ کې ښوونځی پیلوي. ځینې سیمې د 6 یا 7 او 8 ټولګیو لپاره منځني ښوونځي یا جونیري عامه ښوونځي لري. په ثانوي ښوونځي کې (چې د عالي ښوونځي په نوم هم یاږیږي) له 9 څخه تر 12 پورې ټولګي شامل دي.

د لومړي ځل لهپاره خپل ماشومان په ښوونځي کې شاملولو لهپاره تاسو باید د خپل محلي ښوونځي له بورډ سره اړیکه ونیسئ. ښوونځی به ستاسو ماشومان ارزوي ترڅو معلومه کړي چې دوی باید په کوم ټولګي کې شامل کړي.

- په اونټاریو کې د عامه ښوونځیو په اړه د معلوماتو لهپاره ontario.ca کې د پوهنې له وزارت څخه لیدنه وکړئ.
- په settlement.org یا findlink.at/educinfo کې د ابتدایي او ثانوي ښوونځیو په اړه لارښوونې ولولئ.

### د ښوونځي پلاوی (بورډ)

په اونټاریو کې د عامه ښوونځي څلور  ډوله بورډونه شته:

- انګلیسي عامه ښوونځي.
- انګلیسي کاتولیک ښوونځي.
- فرانسې عامه ښوونځي.
- فرانسوي کاتولیک ښوونځي.

د ښوونځیو د بورډونواو چارواکو د لیست لهپاره په ontario.ca کې د اونټاریو د پوهنې وزارت ته مراجعه وکړئ یا findlink.at/boardlist

### بشپړه ورځ وړکتون

د اونټاریو ټول عامه او کاتولیک ښوونځي د 4- او 5 کلنو ماشومانو (پخوانیو او نوو) لهپاره بشپړه ورځ د وړکتون خدمتونه وړاندې کوي. ځینې ښوونځي د وړکتون زده کوونکو لهپاره د ښوونځي دمخه او وروسته برنامې هم وړاندیز کوي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د پوهنې وزارت ontario.ca یا findlink.at/full-dayK ته مراجعه وکړئ.

### د فرانسوي ژبې زده کړه

د ډېرو ښوونځیو د بورډونه د هغو ماشومانو لهپاره د فرانسوي ژبې زده کړې وړاندې کیږي  چې د مور او پلار اصلي ژبه یې فرانسوي ده. د فرانسوي ښوونځیو په اړه نور معلومات د پوهنې له وزارت څخه ترلاسه کړئ: ontario.ca یا findlink.at/FSL

### د فرانسوي ژبې لارښوونې

په انګلیسي عامه او کاتولیک ښوونځیو کې د فرانسوي د تدریس درې ډوله میکانیزمونه دي. د خپل محلي ښوونځي له پلاوي سره اړیکه ونیسئ ترڅو معلومه کړئ چې ستاسو په سیمه کې د زدهکوونکو لهپاره کوم پروګرامونه شته:

- اصلي فرانسوي - زده کوونکي فرانسوي ژبه د یوه مضمون په توګه لولي.
- پراخه فرانسوي - زده کوونکي فرانسوي ژبه د یوه مضمون په توګه زده کوي او لږترلږه د یوې یوه بل مضمون د تدریس ژبه هم ده.

فرانسوي ډوبول - زده کوونکي فرانسوي د یوه مضمون

Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada
Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

په توګه زده کوي او فرانسوي د دوو یا ډېرو نورو مضامینو د تدریس ژبه هم ده.

د FSL پروګرامونو په اړه نور معلومات د پوهنې له وزارت څخه ترلاسه کړئ: ontario.ca یا findlink.at/onfs

## د ځانګړو اړتیاوو زده کړې

د هغو ماشومانو له پاره د ځانګړو زده کړو پروګرامونه شته چې چلندي، ارتباطي، فکري یا فزیکي اړتیاوې لري ترڅو دوی د ښوونځي له تجربو څخه په بشپړه توګه ګټه پورته کړي. همدارنګه ښوونځي د معلولو زده کوونکو د زده کړو د ملاتړ وړاندیز وړاندې کوي.

د دې پروګرامونو په اړه نور معلومات له پوهنې وزارت څخه ترلاسه کړئ: ontario.ca یا findlink.at/Spec/Edu

## مهم یادښت

**په عامه ښوونځیو کې د ماشومانو د ګډون یا داخلېدو هیڅ فیس نشته.**

**ټول ماشومان چې عمرونه یې د ۶ او ۱۸ کلونو ترمنځ وي باید ښوونځي ته ولاړ شي.**



orientation to ontario l’ontario c’est chez moi